دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی :درویش وردگ
۱۸ مارچ ۲۰۱۸

## السَّوادُ الاعظم -۲۳

**پښتوترجمه**

**تألیف :ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**
**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

### شپږڅلویښتمه مسئله

داده : چی دامام حدث، حدث وبولی اوهرڅوک چی غیرله دی څخه وایی په هغی پسی لمونځ روانډی. ځکه چی رسول علیه الصلوة والسلام ویلی: اَلاِمَامُ ضَامِنُ وَالمُؤذِنُ مُوْ تمن. امام ضامن دقوم دی اوموذن امین.
که ته یوازی لمونځ وکړی او امام یوازی. څه شی به دقوم ضامن وی؟ پس که څوک خپل لمونځ خپله وکړی؟ نو دامام حدث حدث نه شو ، دجماعت فضیلت بیا څه شو؟
پس چی لموړی وایی بی مسح روا ندی؟ اوچی امام جنب وی ، ګواکی دقوم لمونځ نه رواکیږی. پس په حقیقت سره پوه شه چی: چی هیڅکله یی دجماعت لمونځ ندی اداءکړی اودهغی فضیلت یی ندی درک کړی. همدومره بس دی هوښیارلره.

### اووه څلویښتمه مسئله

داده: چی په لړو ولاړو اوبو اودس ندی روا، اولړاوبه نباید تریومن کمی وی. ځکه چی رسول علیه الصلوة والسلام په یوه من اوبو اودس اوپه څلورمنو یی غسل کړی دی. اوداوداسه کمترینی اوبه یو من دی. اودغسل کمترینی اوبه څلورمنه دی. اوهرهغه اوبه چی له یوی خوا وخوزیږی اوله بلی ونه خوزیږی اوهغی ته دوتولاره نه وی، په هغو اوبو اودس روادی. اوهرحوض چی ۱۰ په ۱۰ مترو کی نه وی په هغی اوبو اودس ندی روا.اوهرڅوک چی په لړ اوبو اودس کول روابولی په هغی پسی لمونځ ندی روا اوهغه هواداره دی.
اورسول علیه السلام وویل: چی غوره هغه دی چی په لړاوبو اودس وکړی اواوپه اوبو تویولوکی اسراف ونکړی.
اوخواجه ابوحسن کرخی وایی، داوداسه اوبه دری حاله دی.
لومړی: څوک چی استنجا وکړی اوپه موزومسح ونکړی، دهغی اوبه یک من اونیم باید وی، اوکه استنجا ونکړی اوپه موزو مسح وکړی، نیم من اوبه یی بس دی.

اوکه استنجا ونکړی اوپه موزو مسح ونکړی. یااستنجا وکړی اوپه موزو مسح باید وکړی یو من اوبه یی بس دی. همدومره بس دی هوښیارلره.

### آته څلویښتمه مسئله

داده: چی مسح په موزو حق ده اوحق وګڼی. اوکه په موزو مسح وکړی اوچی موزی یی وایستلی باید پښی پریمینځی، اوکه یی ونه مینځی په هغی پسی لمونځ ندی روا، اوهرڅوک چی په موزو مسح روا ونه بولی اوپه لوڅو پښو یی روا وګڼی هغه هوادار اوشیعه اورافضی دی. همدومره بس دی هوښیارلره.

### نه څلویښتمه مسئله

داده: چی دهرچا دبدن دغړوڅخه چی وینه اویا ریم ووزی، اویا ورته شی چی روان وی، طهارت یی تباه کیږی. اوهرڅوک چی فصد یاحجامت وکړی اولمونځ وکړی ، لمونځ یی ندی روا. اوپه هغی پسی لمونځ نه کیږی. اوهغه هواداره دی. همدومره بس دی هوښیارلره.

### پنځوسمه مسئله

داده: چی په ټولو مسلمانانو واجب ده چی دخپل دین ساتنه وکړی. ځکه چی ډیری هواوی پیداشوی دی. او ابوهریره رضی الله عنه روایت کوی: چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل چی حق تعالی خلق په څلورو ډولو پیداکړی: فرشتی، دیو، پریان اوآدمیان.

پس دا څلورډلی یی لس ډوله کړی: نه ډوله یی دیوان دی اویوډول یی:

پس دآدمیانو دغه یوه ډله یی یوسل اوپنځه جزء وګرځول. سل جزء یی دهند په ځمکه دی، یأجوج اومأجوج اومانوق اوماسوق اوماکوخ او ساطوخ له همدی ډلی څخه دی اوټول کافران دی اودټولو بیرته تګ دوزخ ته دی. اوله پاتو پنځه ویشت ډلو څخه یی دوولس دروم په ځمکه ساکن کړی: نسطوریه اومکانیه اواسرائیلیه. اودا دوولس ډلی کافردی اوناپیژانده، اودوزخ ته نومول شوی. اوله هغی جملی څخه دیارلس پاته برخی دمشرق په ځمکه ځای په ځای دی:

ترک دی اوخاقان اوخلج او خزر اوددوی یوه برخ هم کافردی اوبیرته تګ یی دوزخ ته دی. اوپاته شپږ ډلی په مغرب کی دی: زنګیان دی اونبطایان دی اوحبش اونور. اوداټول کافردی اودوزخ ته به ځی.

اوخواجه ابوالقاسم حکیم رحمه الله ویلی: دا یو سل اوپنځه ډلی پرته له ترسایانو اومغان اوجهودانوڅخه دی اوبیرته تګ یی دوزخ دی. اودتوحید اهل یوډول پاته شول اوهغوی هم ۷۳ فرقی دی. ۷۲ ډلی یی دبدعت اوضلالت اهل دی، اودوی هم دوزخ ته بیرته ګرځی. که خدای وغواړی نو دوی بیرته جنت ته راولی.اویوه ډله چی اهل سنت اوجماعت دی ، دوی به دخوف اورجاء (ویره اوهیله) ترمنځ ژوند کوی. اورسول علیه السلام ویلی: هغوی چی ګناهکاره اوبدکرداره دی د یَغفِرُ لِمَن یَّشَاءُ وَیُعَذِبُ مَن یَّشَاءُ دمنشور مشمول کیږی او ددوی حساب له خدای پاک سره دی. که وغواړی عذاب یی کړی اویا عفوکړی . اوهغوی چی داهل سنت اوجماعت له ډلی څخه دی مومن ته په کفرشاهدی نه ورکوی اګرکه کبیره هم وکړی. اوپه هرنیک اوبد پسی دجنازی لمونځ وکړی، اوددوی دجنازی لمونځ حق وګڼی، چی داهل قبلی څه مړشوی وی. اودجمعی له لمانځه لاس په سرنشی، اوپه هرعادل اوجابر امام پسی لمونځ وکړی. اودوی دی اهل دسنت اوجماعت ترقیامت ورځی پوری.

اوداسی وویل زما خدای،اوماته یی هم په همدی امر وکړ، اوهرڅوک چی په دی حال نه وی، زما په ژوند اوزما له وفات وروسته ، له مونږڅخه ندی نه په دنیا کی اونه په آخرت کی.

اوپه خبرکی دی: چی کله حق تعالی آدم علیه السلام پیداکړاوبیا یی بهشت ته بوتی اوبیا یی دنیا ته راووست. ابلیس یی دآدم په سبب لعنت کړ اودواړه یی دنیا ته راواستول، اودآدم هراولاد چی پیداشی په بدل کی یی له دیو څخه لس اولاده پیداکیږی، اوهم دآدم اولاده زیږوی اومړه کیږی او دابلیس اولاده ترقیامت پوری نه مری.

اوحق تعالی ابلیس لره تمنی ورکړی په هوا کی، اودآدم اولادی خواته لښکری استوی، په هره ورځ اویا ځله ابلیس دآدم داولادی له حاله خبروی اوهرمومن ته چی اځل راورسیږی ابلیس علیه لعنه خبروی چی فلان بنده دنزع په حال کی دی. ابلیس اویازره دیوان مأمورکوی ترڅو دهغه بنده شااوخوا وګرځی ترڅو وکولای شی له هغه بنده څخه ایمان یوسی. که دابنده په سنت اوجماعت ولاړ وی، حق تعالی دهردیوپه بدل کی لس فرشتی استوی، ترڅو یی روح دحق تعالی په رضا ووزی. اوکه هغه کسی نَعُوذُبِالله مِن ذَلِکَ مبتدع وی، هغه ابلیس او دهغی لښکرو ته پریږدی ترڅویی روح په کفرکی ووزی. نَعُوذُ بِالله مِن البِدعة والضلالةِ وَمِن تلکِ الحالةَ.

اوعبدالله ابن عباس رضی الله عنه روایت کوی چی رسوله علیه الصلوة والسلام وویل: چی کله دقیامت ورځ وی هواداران د دوزخ خواته بیایی. دوی وایی: ای خدایه! نه موبت پرستی وکړه اونه مو لمرپرستی اونه هم سپوږمی پرستی وکړه اونه هم ستورپرستی. مونږولی دوزخ ته استوی؟ عبدالله ابن عباس په ژړا شو او وویل: ریښتیا وایی نه یی بت پرستی وکړه اونه لمراونه سپوږمی پرستی، ولیکن داسی شیان به یی ویلی وی دنفس دهوا په میل، چی کفر اوشرک او رامده وی اودوی خبرنه وی.

پس باید چی مومن داطریقه اودامذهب وساتی کوم چی وویل شول ترڅو له هوا اوبدعتونو څخه لیر اوسی. همدومره بس دی هوښیارلره.